مؤسس: عبدالرووف بېنوا تأسيس کال: ۱۳۲۸ لمريز

هيواد

ورځپاڼه

نورستان؛
ذبيح الله مجاهد له زيانمنو کورنيو سره خواخوږي څرګنده کړه

اسلامي امارت وياند، مولوي ذبيح الله مجاهد په نورستان کې د سېلابونو له امله پر اوښتې مرګ‌ژوبلې خواشيني ښودلې او تپيانو ته يې د بېړنۍ درملنې هيله څرګند کړې ده.

ښاغلي مجاهد په اېکس‌پاڼه ليکلي چې د اسلامي امارت ټول ارګانونه دې د سېلاب‌ځپلو د سر او مال ژغورنې لپاره لاس په کار شي، او هيله يې څرګنده کړې چې سېلاب‌ځپلو ته به ښه رسېدنه وشي.

د يادولو ده چې نن د نورستان په مرکز، پارون او يو شمېر نورو سيمو کې سېلابونو خلکو ته درانه ځاني او مالي زيانونه اړولي دي.

سه شنبه | ٦ / صفرالمظفر / ١٤٤٨ هـ ق | ٣٠ / چنګابې / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/21 م | خصوصي ګڼه: ۹۱ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۶۲ مه | دوره: اتمه

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونت:

د الشفاء روغتون د بيارغونې چارې ۶۰ سلنه بشپړې شوي

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت وايي چې اوسمهال د الشفاء روغتون د نويو برخو جوړولو او ځينو برخو د بيارغونې چارې د ټولو ودانيزو او طبي معيارونو په پام کې نيولو سره؛ د ملي پراختيا شرکت له لورې ۶۰ سلنه بشپړې شوې او پاتې چارې به يې د روان ۱۴۰۵ لمريز کال تر پای پورې بشپړې شي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د معلوماتو له مخې؛ په يادو چارو کې د پخوانيو ساختمانونو اساسي بيارغونه او معيارونه ته برابرول، د سراپا شپږ پورېزې ودانۍ جوړول، د اکسيجن دوه پورېزې نوې ودانۍ رغول، د طبي هوا او واکيو بشپړ سيستم نصب، د نويو روغتيايي معيارونو مطابق د تهويې سيستم نصب، طبي اکسيجن، د موټرو لپاره د نوي پارکينګ جوړول، مسجد، سړکونه، شنه ساحه او ځينې نورې وړې پروژې شاملې دي.

د سرچينې د معلوماتو پر بنسټ، د الشفاء روغتون د نويو برخو پر جوړولو او د پخوانيو ودانيو پر اساسي بيارغونې باندې، ۱.۴ ميليارده افغانی لګښت راځي چې د افغانستان اسلامي امارت له بودیجې څخه ورکول کېږي.

ويل شوي چې د ياد روغتون چارو تر بشپړېدو وروسته به، په ورځني دول سلګونه هېوادوالو ته د زړه جراحي، د پوښتورګو تبديلي، هيموډيالېز، د سرطاني ناروغيو درملنې عمومي جراحي، داخلي او صدري ځانګو، د جدي ځارنې برخو، بېرنۍ ځانګې، لابراتوار، کلينيک او ځينو نورو برخو کې معياري خدمتونه وړاندې شي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان اسلامي امارت، هېوادوالو ته د ژوند په نورو برخو کې د اسانتياوو برابرولو سربېره؛ د روغتيا په برخه کې هم د معياري خدمتونو ... ۳مخ

د نورستان سېلابونو له امله تر دې دمه ۲۰ کسان شهيدان شوي

د پېښو پر وړاندې د مبارزې چمتووالي اداري ويانډ حافظ محمديوسف حماد وايي، چې د شوي، شاوخوا ۸۰ کسان تپيان او تر سلو ډېر لا هم نادرکه دي.

د نومورې په وينا، سربېره پردې د دغو سېلابونو له امله د خلکو کورونو، کرنيزو ځمکو، عامه تاسيساتو او نورو شتمنيو ته ... ۳مخ

نورستان په مرکز پارون ښار او يو شمېر نورو سيمو کې د ننيو سېلابونو له امله تر دې دمه ۲۰ کسان شهيدان

سرليکنه

په کانونو پانګونه؛ د اقتصادي بدلون او ځان‌بسيانې مهم فرصت

د افغانستان د اقتصادي پرمختک تر ټولو ستر پېلمې له هغو طبيعي شتمنيو سره تړلې دي چې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې پرتې دي. د اوسپنې، مسو، سرو زرو، ليتيوم، کرومايټ، مرمرو او لسګونو نورو کانونو پراخې زېرمې افغانستان د سيمې له هغو هېوادونو ځخه ګرځولی چې د کانونو سکتور يې کولی شي د اقتصاد بڼه بدله کړي. همدا لامل دی چې د کانونو اغېزمن مديريت او قانوني استخراج د اقتصادي ځان‌بسيانې لپاره ځانګړی اهميت لري.

د کانونو او پټروليم وزارت ويلي چې د پروسې کال په ترڅ کې يې د کانونو د استخراج په برخه کې له کورنيو شرکتونو سره ۱۰۹ تړونونه د ۱۰.۲ ميليارد افغانيو په ارزښت لاسليک کړي دي. دغه وزارت همدارنګه وايي چې په وروستيو کلونو کې د افغانستان د کانونو په سکتور کې د سيمې د هېوادونو او پانګوالو لېوالتيا هم د پام وړ زياته شوې ده.

دا شمېرې يوازې د ځو قراردادونو خبر نه دی، دا په حقيقت کې د دې ځرګندونه کوي چې د افغانستان د کانونو سکتور په تدريجي دول د اقتصادي حرکت په مهمې سرچينې بدلېږي.

د کانونو سکتور له کرنې وروسته هغه برخه ده چې د سلګونو زرو کسانو لپاره د مستقيم او غير مستقيم کار زمينه برابرولای شي. د استخراج ترڅنګ د لېږد، پروسس، ساختماني چارو، ماشينرۍ، ټرانسپورټ او خدماتو لسګونه نور سکتورونه هم ورسره فعالېږي. همدا لامل دی چې د کانونو پانګونه يوازې د يوه سکتور پرمختک نه، بلکې د ټول اقتصاد د ځوځښت وسيله ده.

د دولت لپاره هم د کانونو عوايد ځانګړی اهميت لري. هر ځومره چې قانوني استخراج پراخېږي، د دولت عوايد زياتېږي، د پراختيايي پروژو د تمويل ورټيا لوړېږي او پر بهرنيو مرستو د تکيې ارټيا راکمېږي. هغه هېوادونه چې خپل طبيعي منابع په سمه توګه مديريت کړي، توانېدلي چې اقتصادي ثبات او دوامداره وده رامنځته کړي، افغانستان هم د همدې فرصت خاوند دی.

په وروستيو کلونو کې د سيمې د هېوادونو د پانګونې لېوالتيا هم د دې ښکارندويي کوي چې افغانستان د خپلو پراخو طبيعي زېرمو له امله مهم اقتصادي موقعيت لري. کله چې امنيت، رونټيا او قانوني چوکاټ موجود وي، پانګوال د اوږدمهاله پانګونې لپاره ډاډ ترلاسه کوي. همدا ډاډ د دې لامل شوی چې د افغانستان کانونه د سيمه‌ييزو اقتصادي همکاريو مهمه برخه وګرځي.

سره له دې، د کانونو استخراج بايد يوازې د خامو موادو تر اپستلو محدود نه وي. اصلي ګټه هغه وخت ترلاسه کېږي چې کانونه په هېواد کې پروسس شي، فابريکې جوړې شي، توليدي صنعت وده وکړي او صادرات د خامو موادو پر ځای د پروسس شوو محصولاتو په بڼه ترسره شي. په دې صورت کې به هم عوايد زيات شي او هم به د کارموندنې کچه ځو برابره لوړه شي.

افغانستان نن داسې اقتصادي فرصت په لاس کې لري چې د سم مديريت په صورت کې کولی شي د هېواد اقتصادي راتلونکی بدل کړي. د کانونو قانوني استخراج، د کورنيو پانګوالو ملاتړ، د بهرنيو پانګو جذب، د پروسس صنعت پراختيا او شفاف مديريت هغه لارې دي چې د اقتصادي ځان‌بسيانې بنسټ نور هم پياوړی کوي. که دا بهير همداسې دوام وموميږي، د کانونو سکتور به د افغانستان د اقتصادي ودې، ملي عوايدو او دوامدار پرمختک له مهمو ستنو ځخه وګرځي.

د امارتي شرکتونو مسؤلين:

په هېواد کې ۴۴ فعال شرکتونه د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې مهم رول لري

د امارتي شرکتونو مسئولين وايي، اوسمهال په هېواد کې د دغه رياست تر مستقيم چتر لاندې ۴۴ فعال امارتي شرکتونه فعاليت کوي چې د هېواد د اقتصادي ودې، توليداتو د زياتوالي او د کاري فرصتونو د رامنځته کولو په برخه کې مهمه ونډه لري.

مسئولين ټينګار کوي، د توليدي او خدماتي پروژو پراختيا، د موجوده فابريکو عصري کول او د خصوصي سکتور سره همغږي به د هېواد د اقتصادي پرمختک او د لا ډېرو کاري فرصتونو د رامنځته کېدو لامل شي.

د امارتي شرکتونو د نشراتو او عامه اړيکو آمر او وياند مولوي محمد نبي بهار هېواد ورځپاڼې ته ويلي، ياد شرکتونه د برېښنا توليد او وېش، صنعت او توليد، کرنې او مالداری، کانونو او ساختماني چارو، سوداګری او خدماتو په برخو کې فعاليت کوي او د هېواد د اقتصادي ځرخ په حرکت کې اغېزناک رول لوبوي.

د نومورې په وينا، سربېره پردې د دغو شرکتونو فعاليتونه د ملي اقتصاد د پياوړتيا، کورنيو توليداتو د ودې ... ۲مخ

اقتصاد وزارت:

نړيوالو مرستو په افغانستان کې د اقتصادي ځان‌بسيانې زمينه نه ده برابره کړې

په تېرو نړدې پنځو کلونو کې ميليونونه افغانان له بشري مرستو برخمن شوي دي؛ هغه مرستې چې د خلکو د بېړنيو ارتياوو يوه برخه يې پوره کړې ده؛ خو اقتصاد وزارت وايي، په دې موده کې د نړيوالو سازمانونو مرستې نه دي توانېدلي، چې افغانستان د اقتصادي ... ۳مخ

بغلان کې د کابل - بلخ او کابل - کندز دروازو د جوړولو چارې پيل شوې

د بغلان په پلخمري ښار کې د کابل-بلخ او کابل-کندز پر لويو لارو د دروازو د جوړولو چارې پيل شوې.

د بغلان د والي وياند فاروقي خپلواک باختر اطلاعاتي اژانس ته ويلي چې دغه پروژه د ولايتي اداري د پرله‌پسې هڅو په پايله کې د ۷ ميليونه افغانيو په لګښت جوړېږي. د پلخمري ښاروال قاري نقيب الله محمدي په وينا، دواړه عبوري دروازې به د ۶۰ مترو په پلنوالي او ۱۲ مترو په لوړوالي سره په معياري دول جوړې شي. د نومورې په وينا، يادې پروژې چې د ښاري ... ۲مخ

افغانستان بانک:

د هېواد په ټولو سيمو کې دې د مالي تمويل خدمتونه پراخ شي

د افغانستان بانک لومړي مرستيال، صديق الله خالد د افغانستان د تمويلاتو د تضمين بنسټ (ACGF) له مرستيال درک جوزف ټيسن او مل پلاوي سره ليدنه کړې.

افغانستان بانک وايي، په دې ناسته کې دواړو لوريو د ورو مالي تمويلاتو د تضمين د پراختيا، د بلاعوضه مرستو وړاندې کولو او پياوړتيا او د افغانستان له مالي موسسو سره د تخنيکي همکاريو په تړاو خبرې کړې دي. صديق‌الله خالد د هېواد د مالي او بانکي سکتور د ودې او پياوړتيا برخه کې د افغانستان بانک پر ژمنتيا ټينګار کړی او له ياد بنسټ يې غوښتي، چې د هېواد ټولو سيمو کې له توپيره پرته د تمويلاتو خدمتونه وړاندې کړي. د مرکزي بانک په وينا، دواړو لوريو د مالي شموليت د پراختيا، د خصوصي سکتور د ملاتړ او د هېواد د مالي او بانکي... ۳مخ

کنړ کې د دوو پراختيايي پروژو چارې پيل شوې

د کنړ د اسعد اباد ښاروالي له لوري د ۱۲.۶ ميليونه افغانيو په لګښت د دوو پراختيايي پروژو چارې پيل شوې.

د کونړ ښاروال مولوي رحمت الله شهامت باخترا طلاعاتي اژانس ته ويلي، چې په دغو پروژو کې د ۱.۸۵ کيلومتره پلې لارو اساسي جوړول او د ۸۰۰ مترو سړک قير کول شامل دي، چې د ښاروالي له پراختيايي بودیجې ځخه تمويلېږي.

د نومورې په وينا، د يادو پروژو د عملي کېدو پر مهال به ۲۴۰ کسانو ته د کار زمينه برابره شي او تاکل شوې، چې چارې يې د ځلورو مياشتو په موده کې بشپړې شي.

په ورته وخت کې د کونړ مرستيال والي مولوي عبدالله حقاني وايي ... ۲مخ

د برېښنا کمښت؛ کابل ښاريان د اساسي حل غوښتنه کوي

د کابل ښار يو شمېر اوسېدونکي د اوړي په دې ګرمو ورځو کې د برېښنا د پرلپسې دپرېدو له امله شکايت کوي او د دې ستونزې د ژر حل غوښتنه لري. بلخوا، د برېښنا شرکت بيا د برېښنا کمښت او د مصرف زياتوالی د پرلپسې اصلي لاملونه بولي او وايي، دغه ستونزه هغه مهال اساسي حل کېدای شي څو د برېښنا تولیدي پروژې بشپړې شي. د کابل ښار د دوغ‌آباد اوسېدونکی سيد فريد هاشمي وايي: «په دې وروستيو کې چې ګرمي پيل شوې، د برېښنا له کمښت سره مخ يو، نه پوهېږم علت يې څه دی، د برېښنا کمښت دی او که له هغو هېوادونو سره ... ۲مخ

سويس له افغانستان سره څه باندې ۲.۴ ميليونه ډالره مرسته وکړه



په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنری ويلي، چې سويس له افغانستان سره ۲ ميليونه او ۴۰۰ زره امريکايي ډالره مرسته کړې ده. يادې ادارې د دوشنبې په ورځ په اېکس کې ليکلي، چې د سويس دغه مالي مرسته به په افغانستان کې د زيانمنو او اړمنو ټولنو د بشري مرستو د پياوړتيا په برخه کې ولګول شي ... ۲مخ

د کار ارزښت؛ اقتصاد پر تولید ولاړ دی

احسان الله احرار

دا څو ورځې کېږي میډیا ګرمه ده چې فقر ولې په افغانستان کې دېر دی؟ دلته یوه مقایسه اړینه ده، که د نړۍ د شتمنو او بېوزلو ملتونو تاریخ سره پرتله کړې، ژر به دې پام شي چې د هغوی تر منځ اصلي توپیر یوازې په طبیعي زېرمو، جغرافیې او نفوس کې نه دی. داسې هېوادونه شته چې نه پراخې ځمکې لري، نه د تېلو سترې زېرمې او نه هم د سرو زرو کانونه؛ خو د نړۍ له بډایه اقتصادونو څخه شمېرل کېږي. برعکس، داسې هېوادونه هم شته چې طبیعي شتمني یې بېشمېره ده، خو بیا هم د فقر، بېکارۍ او اقتصادي ستونزو سره مخ دي. د دې لوی توپیر تر شا یو اساسي حقیقت پروت دی: اقتصاد د مصرف پر بنسټ نه، بلکې د تولید پر بنسټ ولاړ وي، او تولید د کار له ارزښت څخه سرچینه اخلي. کار یوازې د معاش تراسه کولو وسیله نه ده؛ کار هغه ځواک دی چې خام مواد په محصول، مفکوره په اختراع، ځمکه په حاصل، فابریکه په تولید او ټولنه په اقتصاد بدلوي. هر څه چې انسان یې نن د پرمختګ، هوساینې او تمدن په نوم یادوي، د منظم، دوامدار او هدفمند کار پایله ده. که کار ودرېږي، تولید درېږي؛ که تولید کم شي، بازارونه کمزوري کېږي؛ او که بازارونه کمزوري شي، اقتصاد هم خپل ځواک له لاسه ورکوي.

د انسان د ژوند په لومړیو پراووکې اقتصاد دېر ساده و. هر څوک به د خپلې اړتیا لپاره ښکار کاوه، کرنه به یې کوله او یا به یې د خپلو لاسونو په وسیله د ژوند اړتیاوې برابرولې. هغه مهال شتمني د تولید له کچې سره مستقیمه اړیکه لرله. څومره چې یو څوک دېر تولید کولی، هماغومره یې ژوند ښه کېده. د وخت په تېرېدو، ټولنې پراخې شوې، سوداګري رامنځته شوه او اقتصادي نظامونه پرمختللي شول، خو یو اصل بدل نه شو: شتمني تل د تولید له لارې رامنځته کېږي، نه د مصرف له لارې.

همدا حقیقت د تمدنونو په تاریخ کې هم وینو. هغه ملتونه چې د کرنې، صنعت، سوداګرۍ، علم او ټکنالوژۍ په تولید کې مخکښ شول، د نړۍ اقتصادي مشران هم وګرځېدل. اسلامي تمدن د خپلې زرینې دورې پر مهال یوازې د سوداګرۍ له املې پیاوړی نه و؛ هغه د علم، صنعت، کرنې، فلزکارۍ، نساجۍ، درملو جوړونې، کاغذ جوړونې او کنو نورو برخو تولیدي مرکز و. بغداد، دمشق، قرطبه، سمرقند، بخارا او هرات ځکه د نړۍ د اقتصاد او تمدن مهم ښارونه شول چې د مصرف تر څنګ یې تولید ته لومړیتوب ورکړ.

په اقتصادي فلسفه کې کار د تولید لومړنی عامل ګڼل کېږي. طبیعي سرچینې، پانګه او ټکنالوژي هغه وخت ارزښت پیدا کوي چې د انسان کار ورسره یوځای شي. د سرو زرو کان تر هغو یوازې یوه ډېرینه سیمه ده، څو چې د انسان لاس ترې ګټه وانخلي. حاصلخېزه ځمکه تر هغو شتمني نه شي جوړېدای، څو چې پرې کرنه ونه شي. فابریکه تر هغو ارزښت نه لري، څو چې پکې تولید ونه شي. نو ځکه اقتصاد پوهان باور لري چې د هرې شتمنۍ تر شا د انسان کار او هڅه ولاړه ده.

اسلام هم کار ته د عبادت په سترګه ګوري. د اسلام په اقتصادي لیدلوري کې عزت په کار کې دی، نه په تمه، او برکت په تولید کې دی، نه په تنبلۍ. رسول الله د خپل لاس ګټلې روزي غوره بللې او مسلمانان یې هڅولي چې د نورو پر اوږو بار نه شي. دا لیدلوری یوازې اخلاقي سپارښتنه نه ده؛ دا د یوه سالم اقتصاد بنسټیز اصل هم دی. هغه ټولنه چې کار ته درنښاوی وکړي، تولید به زیات کړي، او هغه چې تولید زیات کړي، د اقتصادي خپلواکۍ لور ته به حرکت وکړي.

تولید د اقتصاد د حرکت اصلي انجن دی. کله چې بزګر کرنه کوي، خام مواد تولیدېږي؛ صنعتکار هماغه مواد په محصول بدلوي؛ سوداګر یې بازار ته رسوي؛ مصرفوونکی یې اخلي او بېرته پانګه د تولید بهیر ته ستنېږي. همدا دوران د اقتصاد وینه ده. که په دې لړۍ کې تولید کمزوری شي، د اقتصاد نورې برخې هم اغېزمنې کېږي.

د نړۍ بریالي اقتصادونه هم د همدې اصل پر بنسټ ولاړ دي. جاپان د طبیعي سرچینو له کمښت سره سره د صنعت، نوښت او کار د فرهنګ له لارې اقتصادي ځواک شو. جرمني خپل صنعتي تولید د کیفیت تر لورې کچې ورساوه او نړیوال بازارونه یې خپل کړل. جنوبي کوریا له جګړې وروسته د تولید، تعلیم او ټکنالوژۍ په مرسته ځان د نړۍ د سترو اقتصادونو په کتار کې ودراوه. دا هېوادونه د طبیعت له برکته نه، بلکې د انسان د کار، انضباط او تولید له املې بریالي شول.

په مقابل کې، هغه اقتصادونه چې یوازې پر وارداتو او مصرف تکیه کوي، له اوږدمهاله ستونزو سره مخ کېږي. هر څومره چې یو هېواد دېر مصرف وکړي او لږ تولید ولري، هماغومره یې پانګه بهر ته وځي، د کار فرصتونه کمېږي او اقتصادي انحصار زیاتېږي. له همدې املې اقتصادي خپلواکي یوازې د سیاسي شعارونو په وسیله نه ترلاسه کېږي؛ هغه د تولیدي ځواک په لوړولو ترلاسه کېږي.

تولید یوازې په فابریکو پورې محدود نه دی. پوهنتون چې یو متخصص روزي، هغه هم تولید دی. څېړنیز مرکز چې نوې اختراع وړاندې کوي، هغه هم تولید دی. کروندګر چې حاصل زیاتوي، صنعتکار چې نوی محصول جوړوي، انجنیر چې نوې ټکنالوژي رامنځته کوي او لیکوال چې فکري پانګه تولیدوي، ټول د اقتصادي ودې برخه دي. د معاصر اقتصاد په نړۍ کې علم، مهارت او نوښت هم د تولید تر ټولو ارزښتمنې سرچینې ګرځېدلې دي.

همدا لامل دی چې نن د نړۍ د شتمنو هېوادونو دېره پانګه په فکري تولید ولاړه ده. هغوی یوازې خام مواد نه پلوري؛ اختراع، سافټویر، درمل، ټکنالوژي، علمي څېړنې او پرمختللې صنعتي محصولات تولیدوي. د همدې فکري تولید ارزښت کله ناکله د تولید د فزیکي لګښت څو چنده لوړ وي.

افغانستان هم که غواړي اقتصادي ثبات او دوامداره وده تراسه کړي، باید د تولید فرهنګ پیاوړی کړي. کرنه باید له دودیز حالت څخه عصري شي، صنعت ته باید د ودې زمینه برابره شي، کوچنۍ او منځنۍ فابریکې باید وهڅول شي، کورنۍ تولیدات باید د کیفیت له مخې سیال شي او د مسلکي زده کړو نظام باید داسې څوګمن شي چې بازار ته د ارتیا وړ مهارتونه ورانده کړي. یوازې د وارداتو پر زیاتېدو هېڅ اقتصاد نه شي پیاوړی کېدای. د کار ارزښت یوازې په اقتصادي ګټه نه محدودېږي. کار انسان ته عزت، مهارت، تجربه، ځان باور او ټولنیز مسئولیت هم وربخښي. هغه ټولنه چې د کار کلتور پیاوړی ولري، هلته نوښت، نظم او سیالي هم وده کوي. برعکس، که د اسانه عاید، تمې او غیرتولیدي فعالیتونو فرهنګ پیاوړی شي، اقتصاد ورو ورو خپل تولیدي ځواک له لاسه ورکوي.

د دولتونو رول هم دلته مهم دی. حکومتونه باید داسې پالیسی غوره کړي چې تولیدوونکي تشویق کړي، پانګونې خوندي کړي، د صادراتو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي او د تولید پر وړاندې اداري خنډونه کم کړي. کله چې پانګه، کار، ټکنالوژي او بازار سره ونښلول شي، اقتصاد په طبیعي ډول د ودې مسیر نیسي. تاریخ یو حقیقت بیا بیا ثابت کړی دی: ملتونه د خپلو طبیعي شتمنیو له املې نه، بلکې د خپلو تولیدي وړتیاوو له املې بډایه کېږي. طبیعي سرچینې یوه ورځ پای ته رسېږي، خو علم، مهارت او د کار فرهنګ د تلپاتې پرمختګ سرچینې دي. همدا علت دی چې هغه هېوادونه چې د خپلو خلکو پر وړتیاوو پانګونه کوي، د اوږدې مودې لپاره اقتصادي ځواک هم ساتي.

د هر اقتصاد اصلي بنسټ تولید دی، او د تولید اصلي سرچینه کار دی. شتمني له بازاره نه پیدا کېږي، بلکې بازار ته د رسېدلو محصول له لارې رامنځته کېږي. هغه ملت چې کار ته درناوی وکړي، تولید ته لومړیتوب ورکړي، علم او مهارت پیاوړي کړي او د خپلو خلکو د تولیدي وړتیاوو د لوړولو لپاره پانګونه وکړي، اقتصادي خپلواکي، دوامداره وده او ملي سوکالي به هم ترلاسه کړي. د تاریخ له ټولو بریالیو تمدنونو څخه همدا ستر درس پاتې دی چې اقتصاد د مصرف په شور نه، بلکې د تولید په ځواک ژوندی پاتې کېږي.

په هېواد کې ۴۴ فعال شرکتونه ...

او اقتصادي ځانبسایني لپاره مناسب فرصتونه برابر کړي دي. هغه وایي، چې د امارتي شرکتونو د بیا فعالېدو له امله په کنیو برخو کې اقتصادي فعالیتونه پراخ شوي او د پانګونې لپاره هم زمینه برابره شوې ده. د هغه په خبره، د شرکتونو بیا فعالول د بېکارۍ د کچې په کمولو او د کاري ځواک د مسلکي مهارتونو په لوړولو کې مستقیم اغېز لري او همدارنګه په بیا فعال شویو فابریکو او تولیدي مرکزونو کې سلګونو انجینرانو، تخنیکرانو او عادي کارګرانو ته د دایمي کار زمینه برابره شوې ده.

د ښاغلي بهار په وینا، د مستقیمو کاري فرصتونو ترڅنګ، د ټرانسپورټ، خدماتو، خامو موادو د برابرولو او کرنې په برخو کې هم زرګونه کسان په غیر مستقیم ډول پر کار بوخت شوي دي. نومورې زیاتوي، د بورې، پنبې او منسوجاتو د تولید د موسمي کمپاینونو پر مهال د سیمه‌ییزو اوسېدونکو لپاره پراخ موسمي کاري فرصتونه هم رامنځته کېږي چې د خلکو پر اقتصادي وضعیت مثبت اغېز لري.

د کابل ښار یو تن اوسېدونکي استاد عبدالرشید مراد وایي، د امارتي شرکتونو فعالیتونه د هېواد د اقتصادي ودې لپاره مهم دي. د نومورې په وینا، کله چې فابریکې او تولیدي مرکزونه بېرته فعالېږي، خلکو ته د کار زمینه برابرېږي او د بېکارۍ کچه راکمېږي. نومورې زیاتوي، مورې هیله لرو چې دا پروژې لا پراخې شي ځو ځوانانو ته نور کاري فرصتونه هم رامنځته شي.

د کابل ښار یو بل تن اوسېدونکی،عزیزالرحمن وایي، د امارتي شرکتونو فعالیتونه کولی شي د کورنیو تولیداتو د زیاتوالي، د وارداتو د کچې د کمېدو او د هېواد د اقتصادي ثبات په پیاوړتیا کې مهم رول ولوبوي. نومورې زیاتوي، که د دغو شرکتونو تولیدات زیات شي، نه یوازې به واردات کم شي، بلکې هېواد به د اقتصادي ځانبسایني پر لور هم چټک ګامونه واخلي.

حضرت بلال صافی

کنړ کې د دوو پراختیایي ...

چې اسلامي امارت ژمن دی ځو خلکو ته معیاري خدمتونه وړاندې او د هغوی د ژوند اسانتیا لپاره بنسټیزې پروژې پلي کړي.د یادونې وړ ده چې څه موده وړاندې هم د اسعاباد ښاروالی له لوري د ۹.۷ میلیونه افغانیو په لګښت د ښار په دویمه ناحیه کې د ۱۲۰۰ متره کانکریټي سړک د جوړولو چارې پیل شوې وې.

د برېښنا کمښت؛ کابل ښاریان ...

چې قرارداد لرو، هغوی زمونږ برېښنا پرې کړې ده، اصلي علت یې نه پوهېږو چېرته دی.»

هغه د دې په ویلو سره چې په ۲۴ ساعتونو کې له پنځو ساعتونو دېره برېښنا نه لري وایي، اوس مهال د خلکو دېرې ورځني کارونه پر برېښنا پورې تړلي او برېښنا دوامداره پرچاوی د خلکو ژوند له ستونزو سره مخ کړی دی.

د کابل د خیرخانې سیمې اوسېدونکی جمعه‌ګل هم ورته شکایت لري او وایي: «په ۲۴ ساعتونو کې یوازې درې ساعته برېښنا لرو، نه شپه برېښنا لرو، نه ورځ؛ د سهار له پنځو بجو چې پرچاوي وي بیا د مانښام تر نهو بجو، کله چې راشي یوازې دوه یا درې ساعته وي، بیا پرچاوي کېږي، نه پکه چلولی شو، نه یخچال، هېڅ کار نه کوي، واړه ماشومان لرو، بې برېښنا له شپې تر سهاره ژاړي.»

د کابل ښار یوه بل اوسېدونکي محمدطاهر له اسلامي امارته غوښتنه وکړه چې د برېښنا تولید ته لومړیتوب ورکړي، ځو دا ستونزه په اساسي ډول حل شي. د برېښنا شرکت ویاند محمدصادق حق‌پرست وایي «زمونږ اساسي ستونزه د برېښنا کمښت دی، مونږ په شبکه کې نړدې ۷۵۰ مېګاواټه برېښنا لرو، په داسې حال کې چې د ټول افغانستان ارتیا ۴۰۰۰ مېګاواټو ته رسېږي... دویمه ستونزه دا ده چې په اوړي او ژمي کې د برېښنا مصرف دېر لوړېږي؛ طبیعي ده، چې د پرچاوی کچه لوړېږي؛ ځکه په ژمي کې خلک له بخاریو او په اوړي کې له پکو او کولرونو استفاده کوي.»

د نومورې په خبره، افغانستان اوس‌مهال خپله د ارتیا وړ برېښنا له تاجکستان او اوزبېکستانه واردوي او یوه برخه برېښنا هم په هېواد کې دننه تولیدېږي.

ده زیاته کړه، چې د دې ستونزې د حل لپاره اوس مهال ۱۷ پروژې تر کار لاندې دي چې په بشپړېدو سره به یې یو زر او ۸۲۰ مېګاواټه برېښنا تولید شي.

د نومورې په خبره، د دغو پروژو بشپړېدل شاوخوا درې کاله وخت نیسي. حق‌پرست د عزیزي ګروپ له لوري د لمریزې برېښنا تولید پروژې ته په اشاره وایي، چې په دې برخه کې هم کار روان دی او تمه ده چې په راتلونکو څو کلونو کې کتې اخیستنې ته وسپارل شي.

د برېښنا شرکت مسوولینو له دې مخکې هم ویلي چې افغانستان د اوبو، باد، لمر او ګاز له سرچینو د برېښنا تولید لپاره د پام وړ ظرفیت لري.

سویس له افغانستان سره ...

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ په وینا :دا مرسته به د بشري اړتیاوو د اغېزمن ځواب ویلو ترڅنګ، له کاوندیو هېوادونو څخه د بېرته راستنېدونکو کډوالو او راستنو شویو کورنیو د ملاتړ، د هغوی د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د بیا مېشتېدو د بهیر د اسانتیا لپاره هم وکارول شي.

د یادونې وړ ده، چې سویس تر دې وړاندې هم په افغانستان کې د بېلابېلو بشري کړکېچونو، طبیعي پېښو او ناڅاپي بحرانونو له امله زیانمنو شویو کسانو سره مرسته کړې او د نړیوالو بشري مرستو له مهمو تمویلونکو هېوادونو څخه ګڼل کېږي.

د افغانستان او پاکستان ...

دویم کال بیا له پاکستان سره د سوداګرۍ لوړ حد بلل شوی، چې په کې د شاوخوا اووه میلیارد ډالرو تجارت شوی او تر ۱۰۰زرو زیات کانټینرونه تبادله شوي.

دا داسې مهال ده چې له پاکستان سره د اړیکو تر خرابېدو وروسته، اسلامي امارت په تېر اکتوبر کې له دې هېواد سره د هوارړخیزو اړیکو پرېکون اعلان کړ او سوداګري یې ورسره په ټپه ودروله.

اوسني حکومت تر هغه وروسته پر بدیلو لارو غور وکړ او له ایران او مرکزي اسیا سره یې د سوداګریزو اړیکو د ودې هڅې پیل کړې.

بغلان کې د یوه سوداګر ...

لومړی دا چې اسلامي امارت دې مورې ته د کارخونې لپاره مناسب ځای راکړي او دویم دا چې د مالیاتو په برخه کې دې له مورې سره همکاري وکړي.» د مسؤلینو په خبره، د دغې کارخونې تولیدات د پلور لپاره بېلابېلو ولایتونو ته لېږدول کېږي.

په دې کارخونه کې کارګران وایي، د کارخونو جوړېدل نه یوازې د هېوادوالو لپاره د کار زمینه برابروي، بلکې پر بهرنیو تولیداتو د هېواد تکیه هم راکموي. د کارخونې د تولیداتو د پلور مدیر، حجازالحق خدراړ په دې اړه وایي: «مورې دلته ځلور یا پنځه ډوله ځپلې جوړوو؛ لکه د ماشومانو، نجونو، ښځو او نارینه‌وو ځپلې، چې په بېلابېلو ډیزاینونو تولیدېږي. زمونږ تولیدات د هېواد ټولو شمالي ولایتونو ته لېږل کېږي او ان غزني او کندهار ته هم استول کېږي.» د کارخونې مسؤلین وایي، که ملاتړ یې وشي او اسانتیاوې ورته برابرې شي، د خپلو تولیداتو کچه به لوړه کړي او ان په بغلان کې تولید شوې ځپلې به نورو هېوادونو ته هم صادرې کړي.

دوی له خلکو هم غواړي، چې د کورنیو تولیداتو په پېرلو سره د پانګوالو او کارګرانو ملاتړ وکړي.

روان کال د ۲.۵ میلیارده ...

له مخې، د «اېف‌پي» په نوم ملي بانکي کارت، چې د افغانستان بانک له خوا طرحه شوی، اوس په ټولو سوداګریزو بانکونو او د تادیاتو په مؤسسو کې فعال دی او هېوادوال کولی شي د خپلو مالي راکړو ورکړو لپاره ترې ګټه واخلي.

د افغانستان بانک د معلوماتو له مخې، دا مهال په هېواد کې د نغدو پیسو ټولیز ګردش شاوخوا ۴۰۹ میلیارده افغانیو ته رسېږي. د بانک مسؤلین وایي، د زړو بانکنوټونو راټولول او سوځول د نغدو پیسو د ښه مدیریت، د افغانیو د اعتبار د ساتنې او د منظم پولي نظام د پیاوړتیا په موخه ترسره کېږي.

د ټولګټو وزارت له لوري ...

څخه پیل او د تراغلي تر سیمې پورې رسېږي.

"دغه برخه ۱۹.۸ کیلومتره اوږدوالی، ۶ متره پلنوالی او ۳ متره اوږې (شولډر) لري. په دې برخه کې د ۴۶ پایو پلکوټو، ۲ پایې پلونو او ۸۵۰ مترو استنادي دېوالونو جوړول شامل دي، چې تر دامهاله یې د پلکوټو د جوړولو چارې بشپړې شوې دي او د استنادي دېوالونو چارې به هم ژر بشپړې شي."

سرچینې لیکلي چې د قوش‌تېپې او درزاب ولسوالیو په ننبلولو سره د ټرانسپورټي شبکې په پراختیا، د سوداګریزو توکو او کرنیزو محصولاتو په لېږد رالېږد کې اسانتیا رامنځته کوي او د خلکو د تګ راتګ د ستونزو په کمولو کې اغېزمن رول لري.

ننګرهار کې د ۳۶۰ کورنیو ...

په مالي ملاتړ د ۶.۶ میلیونه افغانیو په لګښت پلې کېږي.

د معلوماتو له مخې، په دغو پروژو کې د ۱۲۰ مترو په ژوروالي د درېیو ځاه ګانو کیندل، د اوبو دري زېرمو جوړول، د شپږ کیلومتره په اوږدوالي د اوبو نل لیکو غځول، د ۶۷۵۰ واټه لمریزو تختو او ۲۱۰ شیردهنونو نصب شامل دی.سرچینه زیاتوي، چې د دغو شبکو د جوړولو پر مهال لسګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي او د پروژو له بشپړېدو وروسته به د سیمې ۳۶۰ کورنۍ د ځښاک پاکو اوبو ته لاسرسی وموميږي.

د مسوولینو په وینا، د دغو پروژو په بشپړېدو سره به د سیمې اوسېدونکو د پاکو اوبو ستونزې تر دېره هواړې او د روغتیایي وضعیت په ښه والي کې به مهم رول ولوبوي.

په امریکا کې د روان ...

وروسته پیل شوې، چې یو بل یې پېژندل؛ خو یو شمېر لارویان هم په ډزو لګېدلي دي. پولیس تر اوسه د دې پېښې انګېزه نه ده اعلان کړې.

د «وسله‌والو تاوتریخوالو د ارشیف» د شمېرو له مخې، له دې پېښې سره له روان میلادي کال راهیسې په امریکا کې د ډله‌ییزو ډزو پېښو شمېر ۲۵۷ ته رسېدلی دی.

پیرو کې د زلزلې له امله ...

او صومعه هم زیانمنه شوې ده. دغه تاریخي ودانۍ په ۱۵۶۵ میلادي کال کې جوړه شوې او د پیرو د ملي میراث په توګه ثبت شوې ده. د ملکي دفاع د سیمه‌ییزې اداري مشر لوئیس واسکز ویلي، په دې غرنۍ سیمه کې د کورونو په جوړولو کې د خامو خښتو او لومړنیو ساختماني موادو کارونې د مرګ‌ژوبلې او مالي زیانونو کچه لوړه کړې ده.

پیرو د «ارام سمندر د اور کړۍ» په نوم سیمه کې موقعیت لري چې زلزلې پکې په مکرر ډول رامنځته کېږي. په ۲۰۰۷ میلادي کال کې هم د دغه هېواد د پیسکو ولایت ۷.۹ درجې زلزلې نړدې ۶۰۰ کسان وژلي وو.

بغلان کې د کابل- بلخ ...

ښکلا په برخه رول لوبوي چارې به یې په راتلونکو شپږو میاشتو کې بشپړې شي. په ورته مهال د یاد شرکت مسؤلینو له نورو پانګه‌والو غوښتي، چې د هېواد د ابادۍ او بیارغونې په برخه کې فعاله ونډه واخلي.

افغان اعلانات

اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

ریاست عمومی رادیو تلویزیون در نظر دارد تا قرار داد پروژه تدارک ۹۰ عدد بطری UPS را با نمبر تشخیصیه

RTA/1405/NCB/G-1355

به ارزش مبلغ ۸٦۳۱۰۰ افغانی با شرکت تجارتی خوشحال بریا عقد نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که در زمینه اعتراض در زمینه داشته باشند می توانند خویش را از تاریخ نشر اعلان الی مدت پنج روز تقویمی بطور کتبی توام با دلایل آن به آمریت تهیه و تدارکات ریاست مالی و اداری ریاست عمومی رادیو واقع سرک چهاردهم وزیر محمد اکبر خان ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی قرار داد منعقد نخواهد شد.۳۷۱۳

موضوع: اعلان داوطلبی باز ملی

شماره داوطلبی:

NCB/1405/MOE/G-24

نوعیت قرارداد: بیع مطلق مؤجل

وزارت معارف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی؛ پروژه تهیه و خریداری ٦۰ سیت رنگ برای پرنتر های ریاست نتایج و شهادت نامه های وزارت معارف برای سال مالی ۱۴۰۵. اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه مربوطه را درحافظه یافلش دسک ویا سایت ریاست تدارکات ملی https://tenders.ageops.af بدست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه، طبق قانون عقود و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز یکشنبه تاریخ ۱۱/ اسد/۱۴۰۵ به ریاست تدارکات وزارت معارف واقع ده افغانان، جاده محمد جان خان وات ارایه نمایند.

آفرهای نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر لازم نبوده و جلسه آفرگشایی به روز یکشنبه تاریخ /۱۱ اسد/ ۱۴۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در صالون افرگشائی ریاست تدارکات وزارت معارف دایر میگردد.

دعوت به داوطلبی بازملی

{ تهیه وتدارک لوازم ورزشی }

ر.ع.ت.ب.و/۱۴۰۵/د.ب.م/ج-۰۴ }{

ریاست عمومی المپیک، تربیت بدنی و ورزش ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تادرپروسه داوطلبی (تهیه وتدارک لوازم ورزشی) این اداره اشتراک نموده ونقل اسکن شده شرطنامه مربوط رادرفلش، هاردیسک (حافظه) طور رایگان ازآمریت تهیه وتدارکات ریاست عمومی المپیک، تربیت بدنی و ورزش واقع چمن حضوری, ناحیه شانزدهم- کابل دریافت نمایند. واطلاعیه را از ویب سایت اداره ورزش و سیستم تدارکات الکترونیکی و باز افغانستان نیز می توانند مشاهده نمایند.

آفرهای خویش رامطابق شرایط مندرج شرطنامه وطبق قانون وطرزالعمل تدارکات طور سربسته ازتاریخ نشراعلان الی ساعت (۱۰:۰۰ قبل ازظهر) روز(یکشنبه) مورخ(۱۱/ اسد/۱۴۰۵) به دفتر ریاست عمومی مالی واداری ,منزل سوم تعمیر اداری ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده وانترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. وجلسه آفرگشائی بروز یکشنبه مورخ:-(۱۱/ اسد/۱۴۰۵) به ساعت (۱۰:۳۰ ق.ظ) دردفتر ریاست عمومی مالی واداری تدویر میگردد.۳۷۵۱

اعلان

د عدلي وزارت د انسجام لوی ریاست د تولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د تولنې دلابنه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم،اتحادیه رستوانت داران ولایت کابل ته د فعالیت جواز ورکړي.

دیاد جواز اخیستلو لپاره عبدالجبار دفضل احمد زوی دکندهار ولایت تخته پل ولسوالی اصلی او د کابل ولایت ۴ ناحیی فعلی اوسیدونکی د رییس او زلمی د حاجی سردار محمد زوی د کندهار ولایت اول ناحیی اصلی او د کابل ولایت ۵ ناحیي فعلی اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شوي، که پر یادو اشخاصو دصنف اړوند کوم ځوک نیوکه لري، د اعلان له نیټې څخه تر لسو ورځو پوری د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلې بڼه وړاندې کړي، له یادې نیټې وروسته به نومورو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږي چی دجواز د صدور له نیټې څخه د جواز تر نهایي نیټې پورې په یادو اشخاصو ځوک د شکایت حق نه لری.۳۷۵۰

اطلاعیه انتقال رهنمای معاملات

دفتر رهنمای معاملات برادران سید مهدی دارنده جواز شماره ۶۰۵۱ به اسم محترم سید مهدی فرزند سید قربان واقع ناحیه ۵ بازار افشار موقعیت دارد ومیخواهد به ساحه سرک نوی دیوان بیگی ناحیه ۵ شاروالی کابل نقل مکان نماید مراتب به آگاهی شما رسانیده شد.۳۷۶۶

اعلان

د عدلې وزارت د انسجام لوی ریاست د تولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د تولنې دلابنه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم،الجودخیریه بنسټ ته د فعالیت جواز ورکړي.

دیاد جواز اخیستلو لپاره صلاح الدین د محمد مسعود زوی د ننګرهار ولایت سرخرود ولسوالی اصلی او د کابل ولایت ۱۵ ناحیی فعلی اوسیدونکی د رییس او عبدالکریم د عبدالرحیم زوی د ننګرهار ولایت بهسود ولسوالی اصلی د کابل ولایت ۱۵ ناحیي فعلی اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شوي، که پر یادو اشخاصو دصنف اړوند کوم ځوک نیوکه لري، د اعلان له نیټې څخه تر لسو ورځو پوری د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلې بڼه وړاندې کړي، له یادې نیټې وروسته به نومورو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږي چی دجواز د صدور له نیټې څخه د جواز تر نهایي نیټې پورې په یادو اشخاصو ځوک د شکایت حق نه لری.۳۷۴۴

اطلاعیه

محترم داکتر عنایت الله غفاری د میر حسین زوی هلمند ولدیت اړوند د سینا بستریز معالجوی کلینیک مالک چی پخواد ۱۹۴۷۲۰ ګنی مکتوب په ذریعه چی ۲۱/ ۱۲/ ۱۳۸۲ نیته سره سمون لری په رسمی دول ددی ریاست له لوری په هلمند ولایت کی پرانیستل شوی وو اوس یی دعامی روغتیا وزارت محترم مقام څخه سراپا کلینیک ته د تنزیل او الحاج داکتر عنایت الله سراپا کلینیک ته د نوم بدلون غوښتنه کړی چی محترم مقام یی په هکله اړینی سپارښتنی کړی

مهربانی له مخی پورتنی اعلان له خپلو رسنیو څخه نشر ته وسپاری ترڅو خلک موسسی او امارتی اداری د یاد معالجوی کلینیک په هکله کومه دعوه لری د اعلان نشر له نیټی څخه تر لسو ورځو پوری دی دعامی روغتیا وزارت د خصوصی سکتور دتنظیم اوهمغیږی ریاست ته مراجعه وکړی له هغه وروسته یی دعوه باطله کنل کیږی .۳۷۳۱

موضوع : اعلان لیلام ۹۱۴ قلم اجناس داغمه جمعیت هلال احمر افغانی

قرار است جمعیت هلال احمر افغانی بتاریخ ۷ / ۵ / ۱۴۰۵ - (۹۱۴) قلم اجناس داغمه خویش را مطابق قانون لیلام بشکل مزایده بفروش میرساند.

از آنعده اشخاص حقیقی، حکمی و شرکت های که علاقمند خرید اجناس فوق الذکر از طریق لیلام باشند، بتاریخ معینه به دفتر مرکزی جمعیت هلال احمر افغانی واقع ناحیه پنجم افشار سیلو مراجعه نموده و پول تضمین (۱۵٪) فیصد قبل از شروع پروسه داوطلبی نقداً اخذ میگردد.

موضوع (اعلان داوطلبی (۱٤) باب دواخانه‌های شرکت امارتی فارمسی ابن سینا که در موقعیت های مختلف ولایت بلخ)

«شرکت امارتی فارمسی ابن سینا به تعداد (۱٤) باب دواخانه‌های ذیل خویش را که در موقعیت‌های مختلف ولایت بلخ قرار دارند.

۱- دواخانه امارتی شماره (۹) بلخ، واقع سیدآباد؛

۲- دواخانه امارتی شماره (۱٤) بلخ، چوک فردوسی

۳- دواخانه امارتی شماره (۱۵) بلخ، واقع واقع ناحیه اول گذر شروک؛

٤- دواخانه امارتی شماره (۱۷) بلخ، واقع سرک سیاگرد؛

۵- دواخانه امارتی شماره (۱۹) بلخ، واقع بلاک های نساجی؛

٦- دواخانه امارتی شماره (۲۲) بلخ، کارته نور خدا

۷- دواخانه امارتی شماره (۲۳) بلخ، کارته آریانا

۸- دواخانه امارتی شماره (۲۷) بلخ، واقع گذر قرغان ناحیه نهم؛

۹- دواخانه امارتی شماره (۲۸) بلخ، مارکیت آریانا

۱۰- دواخانه امارتی شماره (۲۹) بلخ، گذر صادقیه

۱۱- دواخانه امارتی شماره (۳۰) بلخ، نهر شاهی

۱۲- دواخانه امارتی شماره (۳۲) بلخ، ولسوالی دولت آباد

۱۳- دواخانه امارتی شماره (۳۳) بلخ، فقیرآباد شهر

۱٤- دواخانه امارتی شماره (۳٤) بلخ، واقع اخیر کارته صلح.

میخواهد در روشنی قوانین نافذه کشور طور آفر سربسته به اجاره بسپارد.

بناً از تمام اشخاص و افراد حقیقی، حکمی و شرکت‌های سهامی که خواهش اجاره گرفتن دواخانه‌های امارتی را داشته باشند، تقاضا میگردد تا شرطنامه متذکره را از آمریت فروشات ریاست تجارتی شرکت امارتی فارمسی ابن سینا در بدل ۳۰۰۰ افغانی پول غیرقابل بازگشت دریافت نموده، جلسه آفرگشایی دواخانه‌ها (۱۰) یوم بعد از نشر اخبار بروز (معینه) ساعت ۹:۰۰ بجه قبل از ظهر در مقر شرکت امارتی فارمسی ابن سینا برگذار میگردد. تضمین طبق مقررات و موادات شرطنامه اخذ میگردد.

قابل ذکر است که شعبات فوق الذکر در مکان های خصوصی فعالیت دارند که در داوطلبی هذا صرف امتیاز آنان به اجاره سپرده خواهد شد.

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز صنفی طبابت یونانی الشفا واقع ناحیه سیزدهم برچی کوچه رسالت به اسم محمد شعیب ولد محمد جواد مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۳۰

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه هشتم واقع سرک سوم کارته نو به اسم سردار خان ولد عمرگل مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۵۵

اعلان مفقودی

یک جلد پاسپورت روسی به اسم NAME: IRFAN L.NAME: AZIZ دارای شماره ٦۰۱۲٤۹۸,٦٦N مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۵۰

اعلان مفقودی

یک جلد ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ۴۵۸۵/ ۳۲۹۶ مورخ ۲/۲۷/ ۱۴۰۴ مرتبه محکمه وثایق حوزه ششم به اسم نصیر احمد ولد سیف الملوک ولدیت باز محمد ومحترمه عابده بنت عزت الله ولدیت جیلانی مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۶۲

اعلان مفقودی

یک جلد ترجمه نگلیسی نکاح خط دارای نمبر ۲۴/۳۰۰ مورخ۱۳۹۵/۵/۵ مرتبه محکمه بغلان جدید به اسم جمیله بنت غلام محمد ولدیت باز محمد و محترم جمیل ولد محمد ولدیت اختر مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۴۰

اعلان مفقودی

یک قطعه سند نمایندگی اجازه لیک شرکت ترانسپورتی وبس رانی نوری واقع ولایت غور به اسم سید احمد نوری ولد گل احمد نوری مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۴۲

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز تشبث شرکت ساختمانی انجنیری فانوس کوثر دارای نمبر ۵۶۵۳۰ به اسم سید هاشم ولد سید سکندر مفقودگردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۵۳

اعلان مفقودی

یک قطعه کارت مجوزحمل سلاح کلاشینکوف مربوط حوزه ششم امنیتی شهر کابل به اسم خواجه معصوم فرزند شیر احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۶۱

اطلاعیه مفقودی مهر

تشبث شرکت تجارتی پتیالی جاوید لمیتد دارنده جواز نمبر ۸۴۴۸۳ بریاست محترم محمد جاوید ولد محمد یعقوب طی یک قطعه عریضه خواهان مفقودی مهر شرکت خویش است بنا از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون مهر شرکت متذکره از اعتبارساقط میباشد.۳۷۶۳

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه قباله شرعی دارای نمبر ۳۷۹۹/۸۶۶ مورخ ۱۴۲۱/۷/۷ مرتبه محکمه وثایق کابل اسم حاجی غلام سخی ولد حاجی گل محمد خان ولدیت سلیمان مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۴۸

اعلان مفقودی

یک جلد ترجمه انگلیسی نکاح خط دارای نمبر ۲۴/۳۰۰ مورخ۱۳۹۵/۵/۵ مرتبه محکمه بغلان جدید به اسم جمیله بنت غلام محمد ولدیت باز محمد و محترم جمیل ولد محمد ولدیت اختر مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۴۰

اعلان مفقودی

یک قطعه سند نمایندگی اجازه لیک شرکت ترانسپورتی وبس رانی نوری واقع ولایت غور به اسم سید احمد نوری ولد گل احمد نوری مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۷۴۲

د الشفاء روغتون د بیارغونې ...

وړاندې کولو ته ژمن دی او په همدې موخه یې د هېواد په څه باندې ۳۰۰ ولسوالیو کې د نویو عمومي روغتونونو جوړولو ترڅنګ یې د لویو روغتونونو بیارغونې او معیار ته د برابرېدو هڅې پیل کړې دي.

نړیوالو مرستو په افغانستان کې ...

ځان بسایني لپاره اړین بنسټونه برابر کړي.

د دغه وزارت ویاند، عبدالرحمان حبیب رسنیو ته ویلي: «د نړیوالو سازمانونو د مرستو اغېزې لنډمهاله وې او د هېواد د اقتصادي ځانبسایني لپاره یې لازم شرایط نه دي برابر کړي.»

په ورته مهال، د یوناما سرپرست ویلي، چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو راهیسې نړیوالې ټولنې له افغانستان سره ۱۶ میلیارده ډالر مرسته کړې ده؛ خو اقتصاد وزارت دا شمېرې ناسمې او له واقعیت لرې بولي.

یو شمېر اقتصادي شنونکي وایي، د دغو مرستو دېره برخه د خلکو د ببرنیو ارتیاوو د پوره کولو لپاره لګول شوې او د بنسټیزو او پراختیایي پروژو وندې پکې دېره کمه وه.

اقتصادي شنونکي، محمد نبي افغان په دې اړه وایي: «د نړیوالې ټولنې مرستې زموږ په بنسټیزو پروژو کې نه دي لګول شوې. تر هغه چې زموږ تعلیمي بنسټونه سم نه شي، پرمختګ نه شو کولی.»

د اقتصادي شنونکو په باور، که څه هم ببرنیو مرستو د بحران پر مهال د ډېرو خلکو ژوند ژغورلی؛ خو پرته له دې چې په تولید او د کارموندنې په برخو کې پانګونه وشي، دوامداره اقتصادي وده نه شي رامنځته کولای.

عبدالرحیم هم وویل: «مرستې باید مستحقو کسانو ته ورسېږي، نه هغو ته چې ارتیا ورته نه لري.» اقتصادي شنونکي وایي، د بشري مرستو بریا هغه وخت بشپړ مفهوم پیدا کوي چې د خلکو د ببرنیو ارتیاوو پر پوره کولو سربېره، د کارموندنې، تولید او د اقتصادي اتکا د کمېدو په برخه کې هم اغېزناک رول ولوبوي.

د هېواد په ټولو سیمو کې ...

سکتور د لا پیاوړتیا په موخه د دوامدارې همکارۍ پر اهمیت ټینګار کړی دی.

د یادونې وړ ده، چې د دې غونډې موخه په افغانستان کې د وړو مالي تمویلاتو د تضمین، په برخه کې د لا زیاتو اسانتیاوو، بلاعوضه مرستو، او له تمویلاتي مؤسساتو سره د تخنیکی همکاریو رامنځته کول وو.

د نورستان سېلابونو له امله ...

هم پراخ زیانونه اوښتي دي.

ښاغلي حماد زیاته کړې، چې نادرکه کسانو د لټون او ژغورنې عملیات دوام لري.

د یادونې ده چې تر دې مخکې، د نورستان ولایت مقام ویاند فریدون صمیم ویلي وو چې د دغو سېلابونو له امله ۶ کسان شهیدان شوي او ۶۰ نور نادرکه دي.

د محرومو سیمو په مخابراتو ...

له مخابراتي پوښښ لاندې راغلي دي او د معاصرې نړۍ سره د څنګ په څنګ تګ یوه نښه ده. نوموړی زیاتوي چې اوس ارتیا ده، څو دغه لرې پرتو سیمو ته دغه ډول خدمتونه ورسېږي. پخوا د ناامنۍ له وجې، له ښارونو لرې پرتې سیمې ډېرې ځپل شوې وې، هلته هیڅ ډول خدمات نشو تللی؛ خو اوس چې د ناامنۍ ستونزه حل شوې، ارتیا ده، نسبت ښارونو ته دغه سیمو ته زیات خدمتونه وشي، ځکه چې دغه افغانانو زیاتې ستونزې ګاللې دي. د یادونې وړ ده، چې دغه ۱۱ نوي سایټونه د تخار خواجه غار، بهارک، د بغلان تاله او برفک، ګذرګاه، د سمنګانو خورم او سرباغ، د پکتیا سید کرم، د پکتیکا نعمت اباد، د خوست تنۍ، سپېرې او لوګر ازرې ولسوالیو کې جوړېږي. د یاد وزارت د معلوماتو په اساس اوس‌مهال په افغانستان کې شاوخوا ۱۰ زره سایټونه فعال دي. **تاج محمد بهار**

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاینر: یما عرب
د ویبپاڼې مدیر : ګل ولي افغانیار
چاپ پته: مطبعه صنعتی احمد صمدی - چهار راهی صدارت - بلال مارکیت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

بریښنایی پڼه
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	٦٥.٩٠ اف
یو یورو	٧٥.١٠ اف
یو پونډ	٨٦.٤٠ اف
یو درهم	١٧.٩٤ اف
زر ریال	٠٣٥ اف
زر کلداري	٢٢٩ اف
زر کلداري	٧٤٣ اف

د هوا حالت

کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی
٠٤:٥٥	٣٦°C	٣٧°C	٤٠°C	٤٤°C	٤١°C	٣٧°C

٠٧:٠٣

د افغانستان او پاکستان سوداګري تر ټولو ټیټې کچې ته رسېدلې

د پاکستان دان ورځپاڼې د یوه تازه راپور په خپرولو سره، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ټرانزېټي سوداګرۍ نزول او خوړ حالت ته اشاره کړې. په راپور کې د پاکستان د کمرکاتو اداري د ارقامو له مخې راغلي، چې د دواړو هېوادونو سوداګري په روان مالي کال کې تر ټولو ټیټه کچه تجربه کړې، چې په لړ کې یې یوازې د ۳۶۷ میلیون ډالرو په ارزښت تجارت شوی او د توکو ۱۱زره کانټینره تبادلات شوي. د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وړاندې د تجارت دغه کچه ۸۹ زره کانټینر ښودل شوې، چې ارزښت یې پنځه میلیارد امریکایي ډالر کېده. د راپور په یوه برخه کې راغلي: « د افغانستان او پاکستان ترمنځ ټرانزیټي سوداګري تر ټولو ټیټ حالت تجربه کړی. د روان مالي کال په ترڅ کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه د ۳۶۷ میلیون ډالرو په ارزښت ۱۱زره او ۵۹۲ کانټینرونو ته راټیټه شوې. دا په داسې حال کې ده، چې د اسلامي امارت له واکمنېدو وړاندې دغه کچه په کلني ډول د پنځه میلیارد ډالرو په ارزښت ۸۹ زره کانټینرونو ته رسېده.»

که څه هم ورځپاڼې یې لاملونه په بشپړ ډول د لارو ټرل کېدل او له پاکستان څخه ایران او مرکزي اسیا هېوادونو ته د افغانستان د سوداګرۍ پام اړول یاد کړي؛ خو معلومات ښیي، چې د سواګرۍ د کچې راټیټېدل د لارو له ټرل کېدو وړاندې په ۲۰۲۳کال پیل شوي.

د اسلامي امارت د واک ...

۲مخ

بهرني لنډ خبرونه

په امریکا کې د روان زېړدیز کال له پیل راهیسې د ډلهییزو ډزو ۲۵۷ پېښې ثبت شوي

را راپورونو له مخې، د امریکا د اریزونا ایالت د توسان ښار په یوه سوداګریزه سیمه کې د ډزو په یوه پېښه کې لس کسان ټپیان شوي دي. رویټرز خبري اژانس راپور ورکړی ، چې دا پېښه د توسان ښار مرکز ته نږدې شوې ده. د توسان د پولیسو ویاند فرانک ماګوس ویلي، پولیس د ډزو غږ له اوریدو وروسته سیمې ته ورسېدل او وروسته له هغه چې شکمن کس د دوی پرله‌پسې سپارښتنو ته پاملرنه ونه کړه، ډزې یې پرې وکړې.

د ده په خبره: شکمن کس د سختو ټپونو له املې روغتون ته لېږدول شوی دی. همدارنګه، نهه نور کسان د پولیسو له رسېدو مخکې ټپیان شوي وو او په نازک حالت کې روغتونونو ته انتقال شوي دي. تول ټپیان لویان دي او پولیسو ته کوم زیان نه دی اوښتی.

د راپور له مخې، دا ډزې د هغو دوو ډلو ترمنځ له شخړې ...

۲مخ

له ایران سره په جګړه کې د وژل شویو امریکایي پوځیانو شمېر ۱۷ ته ورسېد

ایران اعلان کړی، چې په اردن کې یې د امریکا خینې پوځي ادې او پوځي تجهیزات په نښه کړي دي. د تسنیم خبري اژانس د راپور له مخې، د اردن پر «الازرق» هوایي اډه د ایران په برید کې د امریکا یو شمېر پوځي تجهیزات زیانمن شوي دي. راپور زیاتوي، چې د عقبه هوایي ډګر په بریدونو کې د امریکا C-۱۷ ټرانسپورتي الوتکه او P-۸ کشفي الوتکه هم په نښه شوې دي. په ورته وخت کې، د امریکا مرکزي قوماندانۍ (سینټکام) ویلي، چې په ایران کې یې پر ټاکلو

پوځي هدفونو هوایي بریدونه کړي دي.

بل لور ته، سینټکام اعلان کړی، چې د عراق په شمال کې د عملیاتو پر مهال یو امریکایي سرتېری وژل شوی او یو بل تپي شوی دی.

د الجزیرې د راپور له مخې، سینټکام په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې دغه پېښه د جولای په ۱۸مه رامنځته شوې ده. د راپورونو له مخې، د امریکا او اسرائیلو له ایران سره د جګړې له پیل راهیسې د وژل شویو امریکایي سرتېرو شمېر ۱۷ تنو ته رسېدلی دی.

پیرو کې د زلزلې له املې شپږ کسان مړه او ۳۰ نور ټپیان شوي

د پیرو چارواکي وایي، چې د دغه هېواد د اندیز غربی سیمه کې د ۵.۵ درجې زلزلې له املې لږ تر لږه شپږ کسان مړه، څه باندې ۳۰ ټپیان او ۳۰۰ نور بې‌خایه شوي دي.

اسوشیټډ پریس خبري اژانس راپور ورکړی چې دد غه د زلزلې مرکز د هوانکایو ولایت د سیکایا ښار سوېل‌لوېدیځ ته په دوه کیلومتری او ژوروالی یې د خمکې لاندې په ۱۰ کیلومتری کې و.

د پیرو د ملکي دفاع ملي انستیټیوټ ویلي، چې د ورک شویو کسانو کره شمېر لا هم نه دی معلوم. د دې زلزلې له املې ګڼې ودانۍ نړېدلې یا سختې زیانمنې شوې دي. د راپور له مخې، په چونګوس باخو سیمه کې د «سانتیاګو دې لېون» تاریخي کلیسا ...

۲مخ



د محرومو سیمو په مخابراتو د پوښښ لړۍ؛ ۱۱ نوي سایټونه جوړېږي

د اسلامي امارت په راتګ سره، ټول هېواد کې د مساوي خدماتو لړۍ پراختیا موندلې. دوی وایي په هغو سیمو کې چې پخوا د ناامنۍ له امله ورته پام نه و شوی، اوس به ورته پام کېږي.

د همدې لړۍ په دوام د مخابراتو معلوماتي تکنالوژۍ وزارت په دغه محرومو سیمو کې د مخابراتي خدمتونو د پوښښ لړۍ پیل کړې ده، چې تازه یې هېواد ورځپاڼې ته د ۱۱ نوي سایټونو فعالېدو خبر ورکړی دی. د دغه وزارت مسوولین وایي چې دغه سایټونه په دولتي بودیجه، د اټومۍ افغان بیسیم او اتصالات شبکو له لوري جوړېږي.

د دغه وزارت د نشراتو رییس او ویاند عنایت الکوزي، د هېواد ورځپاڼې له خبریال سره په مرکه کې د دغه سایټونو د جوړېدو اړوند ویلي چې د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت، د هېواد لرې پرتو سیمو ته او هغه سیمې چې له مخابراتي خدمتونو بې برخې پاتې شوې دي، د مخابراتي خدماتو ته د لاسرسي په موخه د ۱۱ مخابراتي انتنونو قرارداد لاس لیک کړ.

ښاغلی الکوزی وایي چې دغه سایټونه د خینو هېوادوالو د غوښتنې په اساس، د افغان‌بیسیم، اتصالات او اټوما شبکو له لوري په دولتي بودیجه(TDF) جوړېږي.

د معلوماتي ټکنالوژۍ یو تن ماهر، مجیب الله راتب ویلي، چې تر بل هر وخت لرې پرتې سیمې ...

۳مخ

بغلان کې د یوه سوداګر له لوري د څپلیو د تولید کارخونه جوړه شوې

بغلان کې یوه سوداګر د ۲۰۰ زره امریکایي ډالرو په پانګونې سره د څپلیو د تولید کارخونې په جوړولو ۷۰ تنه په مستقیم او غیرمستقیم ډول د کار زمینه برابره کړې ده. د کارخونې مسؤلین له اسلامي امارت غواړي چې د کورنیو پانګوالو ملاتړ وکړي. د څپلیو د تولید کارخونې مدیر، عبدالباري خدرای وایي: ((د دې کارخونې په جوړولو څه باندې ۲۰۰ زره امریکایي ډالره لګښت راغلی دی. اوس مهال نږدې ۷۰ کسانو ته په مستقیم او غیرمستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده. موږ دوو مهمو شیانو ته اړتیا لرو ...

۲مخ

افغانستان بانک:

روان کال د ۲.۵ میلیارده افغانیو په ارزښت زاړه بانکنوټونه سوځول شوي

په افغانستان کې هر کال د ډېر استعمال له امله د میلیاردونو افغانیو په ارزښت بانکنوټونه زړېږي او له چلښته وځي.

د افغانستان بانک وایي، د روان ۱۴۰۵ لمریز کال له پیل راهیسې یې د هېواد په کچه د ۲ میلیارده، ۵۴۱ میلیونه او ۶۴۵ زره افغانیو په ارزښت زاړه بانکنوټونه راټول او له دوران څخه ایستلي دي.

د افغانستان بانک ویاند نوري وایي، یوازې په تېره اوونۍ کې د هېواد له شمال او شمال ختیځ زونونو څخه راټول شوي د یو میلیارد او ۱۴۱ میلیونه افغانیو په ارزښت زاړه بانکنوټونه په بلخ ولایت کې وسوځول شول. نومورې له هېوادوالو وغوښتل، چې د راکړې ورکړې پر مهال د افغانیو بانکنوټونو ساتنې ته جدي پاملرنه وکړي، ترڅو له ټاکلي وخت مخکې زیانمن او له چلښته ونه وځي. د ده په وینا، د بانکنوټونو ساتنه یو عمومي مسؤلیت دی او د هغوی سالم استعمال د چاپ لګښتونه هم راکموي.

د اقتصادي چارو کارپوهان وایي، هر کال د زړو بانکنوټونو د بدیل چاپ لپاره د پام وړ لګښت کېږي، چې پر مالي سرچینو اغېز لري. د دوی په باور، د برېښنایي بانکداري پراختیا کولی شي د نغدو پیسو کارول کم او د بانکنوټونو عمر زیات کړي. د افغانستان بانک هم وایي، د برېښنایي بانکداري د پراختیا لپاره هڅې روانې دي د دغه بانک د معلوماتو ...

۲مخ

د ټولګټو وزارت له لوري د قوشټېپې - درزاب سړک د جوړولو چارې روانې دي

د ټولګټو وزارت وایي چې د جوزجان له قوشټېپې ولسوالی څخه د همدې ولایت تر درزاب ولسوالی پورې د غځېدلي سړک چارې په درېیو برخو کې روانې دي. د دغه وزارت ویاند، محمد اشرف حق‌شناس په اېکس‌پاڼه لیکلي، چې دا سړک ۵۱کیلومتره اوږدوالی لري او چارې یې د یو میلیارد ۵۱۳ میلیون او ۷۳۲ زره افغانیو په ارزښت پیل شوې دي.

د خبرپاڼې له مخې، چې د دغه سړک لومړۍ برخه د ۴۴۶ میلیون او ۲۷ زره افغانیو په لګښت جوړېږي، چې د نوآباد له سیمې ...

۲مخ

ننګرهار کې د ۳۶۰ کورنیو لپاره د ځنښاک پاکو اوبو درې شبکې جوړېږي

د ننګرهار د سره رود ولسوالی په اتحاد، وحدت او زاوه وال سیمو کې د نږدې ۷ میلیونه افغانیو په لګښت د ځنښاک پاکو اوبو د درېیو شبکو د جوړولو چارې پیل شوې. د ننګرهار د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مطبوعاتي دفتر مسؤلینو ویلي، چې یادې پروژې د افغانستان د بشري مرستو صندوق ...

۲مخ

کندز کې د سنوکر معیاري کلب پرانیستل شو

د کندز د بدنې روزنې او ورزش ریاست په همکارۍ،دوه تنه افغان پانګوالو په مالي پانګونه، د ۴۵ زره امریکایي ډالرو په لګښت د سنوکر یو معیاري کلب د دغه ولایت په مرکز کې جوړ او کټې اخیستنې ته وسپارل شو. یاد کلب پنځه معیاري سنوکر میزونه لري او د کندز د بدنې روزنې او ورزش رئیس قاري عزت‌الله سنان، د ورزشي چارو امر محمد قیوم رحیمي، سیمه‌ییزو مسؤلینو، ورزش‌پالو او ګڼ شمېر خوانانو په حضور کې د خانګرو مراسمو په ترڅ کې پرانیستل شو.

د مسؤلینو په وینا، د دغه کلب په پرانیستل کېدو سره به د سنوکر ورزش د ودې، ورزشکارانو ته د معیاري اسانتیاوو د برابرولو او د خوانانو د سالمو ورزشي فعالیتونو د پراختیا لپاره مناسب فرصتونه رامنځته شي. د یادونې وړ ده، چې په وروستیو کلونو کې په هېواد کې د بېلابېلو ورزشي ځانګو ترڅنګ د سنوکر ورزش هم د پراختیا په حال کې دی او د خصوصي پانګوالو پانګونه د ورزشي زیربناوو په پیاوړتیا کې مهم رول لوبوي.